مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند ۲۰۱۸/۰۱/۲۳

# څو ورځې کيږي ځنازه يې پر اوږو ګرځوم

## (فريد باراني ته)



دوې ورځې کيږي ناست يم ليکم ورته

لکه شيرام چې د چنار پر پاڼو تير شي داسې

په ملامتو سترګو

د باراني د شعر دفتر اړوم

کله په بله پاڼه

منګولې خښې کړم يو څه وليکم

کله د وير څپې غالبې شي او لاندې مې کړي

دوې ورځې کيږي ناست يم ليکم ورته

نه مې ملا درد کوي،

نه مې په پښو کې خوږ شته

زما د زړه اوږې رازوړندې شوې، خوږې شولې

څو ورځې کيږي ځنازه يې پر اوږو ګرځوم

۲۰۱۸/۰۱/۰۴
هيدرسليف
ډنمارک



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ